مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۱/۱۲/۰۳

# رفیقانو یې پر ده تکیه کړې وه او ده پر پردیو

غالباً د دویم ټولګي زده کوونکی وم. کلي ته په رخصتۍ تللی وم چې د ویروونکیو بمبارونو له تجربو وروسته، بیرته هریپور کیمپ ته را روان شوو.
زه ، خدای بخښلې مور مې او له ما مشره خورکۍ ،چې هغه هم ماشومه وه، د دې سفر لارویان وو .
له تورخم اوښتل سخت و، باید کوم شناخته پیدا شوی وای. د دې لپاره انتظار په کار و او مور دې انتظار ته د جلال اباد ښار کې د یوه شناخته کور غوره کړ.
دا سړی دولتي مامور و، خدای دې وبخښي اوس مړ دی. د اوړدې او مهمې دندې د اجراکولو باجود یې د ژوند وروستۍ شیبې کابل کیمپ *کې په داسې یوه خونه کې تېرولې چې د دروازې په ځای ورته زړه تاري بوجۍ را ځړیدلې وه چې دې کار یې د صداقت او اخلاص ثبوتونه ورکول.
د دوی د خونې د دروازې په سر، چوکاټ کې د یو مخ خریلي عکس و. په هغه سهار متوجه شوم چې کوربه یونیفرم واغوست، د چرمې موزو مزې یې راټینګ کړل نو بیا مخامخ عکس ته ودرید، سلامي یې ورته وکړه او د جیب په دسمال یې عکس صافي کړ او د هغه په وصف کې یې څو جملې وویلې، چې یوه یې اوس هم راته یاده ده:
ببرک خو شهزاده دی، شهزاده!
د ببرک نوم مې اوریدلی و، خو عکس مې ور ته نه و لیدلی. کله چې زموږ کلی بمباریده او موږ کوچنې او تیاره سمڅه کې ننوتلي وو، نو ښځو ببرک ته ښېرا کولې.
وروسته مې د ده ګڼې بیانیې واوریدې، په یوه کې یې ویل:
اتکای ما بر جماهیر بزرگ شوروی است!
په دې خبره یې ، ماته د جلال اباد کوربه را یاد شو؛ ما ویل خپلو رفیقانو یې پر ده تکیه کړې وه او ده پر پردیو!
دلته د ګڼو مشرانو ستونزه همدا ده چې خلک پر دوی تکیه کوي او دوی پر پردیو.
نن د دسمبر ۳ ده، له نن څخه ۲۵ کاله وړاندې ببرک کارمل، په داسې حال کې چې نه یې خپلو کې وزن درلود او نه پردیو په درنده تیږه تله، ساه ور کړه او دنیا یې ترک کړه؛ خو پند پند کیسې یې پاتې شوې.

*د جلال - اباد تورخم په لاره هغه کیمپ چې د تنظیمي جګړو له ویرې ورته کابل ښاریان په ډېر دردوونکي حالت کې را کډه شوي وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ